AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۱۰/۲۰

# ناروغ او د درملنې ارزښت

مور هغه ناروغ ته ورته يو، چې يوازې او يوازې له درد څخه په شکايت پوهيږي. شعور يې همدومره دی، چې درد حس کړي او وويلای شي، چې کوم کوم دردونه لري.

نه ډاکتر ته ځي، نه درمل خوري، نه پرهېز کوي، نه پر خپل خونړي و زاولن ټپ پټی لګوي، چې وينه يې ودريږي او نه هم غواړي د خپلې ناروغی په لامل پوه شي.

چې د ډاکتر، درملو، پټی او د ناروغی لاملونه ورته ياد کړې، ټولو ته بد رد وايي.

دا ناروغ تر ناروغی زيات په ډاکتر و درملو غوسه دی.

ملامت نه دی، ناروغ پر دې ټولو باور له لاسه ورکړی دی. ډاکتر به ښه نه و، درمل به هم بې‌اغېزې وو، پرهېز به يې هم حوصله تنګوله، خو ستونزه دا وه او ده، چې ناروغ بايد د درملنې په ارزښت پوه شي.

دا ناروغ (مور) اوس له رواني پلوه د عصبيت په تر ټولو حاد وضعيت کې دی، خو ستونزه بيا هم دا ده، چې دی په ناروغی نه، بلکې په طبيب، درملو او علاج غوسه دی.

دا ناروغ فکر کوي، چې پر طبيب، درملو او علاج غوسه يې غم سپکوي او رنځ به يې هم ښه کړي، خو رنځ رنځ دی، خپل لاملونه او ريښې لري.

مور تر ډاکتر مخکې يوه پياوړي ارواپوه ته اړتيا لرو، چې د «ناروغ» پام له نورو څيزونو څخه ناروغی ته ورواړوي او د ده د بېځايه عصبيت چاره وروکړي.
هو، مور شعور ته اړ يو، شعور او د رنځ پر ريښو پوهېدلو ته اړ يو.
هغوی، چې د ټولنې د وينتيا او روښانتيا لپاره هڅې کوي، له يوه غوسه، رنځېدلې، ناهيلي او ځورېدلي ناروغ سره مخامخ دي. که دا ناروغ يې وښکنځې او لا کومه ځپېړه يې ووهي هم ښايي دوی ناهيلي نه شي او لا هم د ناروغ د پوهولو هڅو ته ادامه ورکړي.

مور ښايي د ناروغ پام دې ته راواړوو، چې له درملنې پرته بله لاره نشته.
دا درملنه پخپله د ناروغ په اراده کې ده. هېڅ ډاکتر به په خپله خوښه دی ونه‌رغوي، مګر دا چې ناروغ يې وغواړي .
خپله ناروغي بايد وپېژنو!

زمور اصلي ناروغي همدا ده، چې د ناروغی پرځای له طبيب او درملو څخه کرکه کوو.
زمور ناروغي دا ده، چې د خپلې روغتيا اراده، شعور او هوډ نه راخپلوو.
پښې مو غځولي او «هرڅه» ته ښکنځلي کوو.

که تاسو «هرڅه» د ناروغ ښکنځلي نه منئ، نو زمور افغانانو ټولنيزو جالپانو ته سر وربښکاره کړئ، وګورئ، چې مور څه وايو؟ څه ليکو؟

**وينتيا، روښانتيا او بدلون**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ